بېشکه مومن ته په جنت کې داسې يوه خيمه شته چې له صدف (ملغلرې) جوړه شوې وي او داخل يې تش وي، اوږدوالی يې شپيته ميل دی، په دې خيمه کې به د مومن لپاره ميرمنې وي، په دوی ټولو به ګرځي، خو يو بل نه وينې

له ابو موسىٰ رضي الله عنه نه روايت دی، چې نبي صلى الله عليه وسلم فرمايلي: "بېشکه مومن ته په جنت کې داسې يوه خيمه شته چې له صدف (ملغلرې) جوړه شوې وي او داخل يې تش وي، اوږدوالی يې شپيته ميل دی، په دې خيمه کې به د مومن لپاره ميرمنې وي، په دوی ټولو به ګرځي، خو يو بل نه وينې".
[صحيح دی] [متفق عليه دی]

نبي صلى الله عليه وسلم د جنت د ځينو نعمتونو په اړه خبر ورکوي چې مومن ته په جنت کې يوه ستره، پراخه، او خالي منځي خيمه شته چې له يوې صدف دانې جوړه ده، اوږدوالی او پلنوالی يې په اسمان کې شپيته ميله دی، په هر اړخ، کونج او څلورو زاويو کې يې ښځې دي چې يوبل به نه وينې، او مؤمن به پرې ګرځي.

http://www.sunnah.global/hadeeth/ps/show/8349